# افغانستان آزاد – آزاد افغانستان

AA-AA

چو کشور نباشد تن من مبـــاد بدین بوم و بر زنده یک تن مـــباد
همه سر به سر تن به کشتن دهیم از آن به که کشور به دشمن دهیم

afgazad@gmail.com www.afgazad.com

| گزارشها | Reports |
|---|---|


گزارشگران پورتال- افغانستان
۰۱ جون ۲۰۱۷

## در افغانستان چه می گذرد؟

۳٦۲



- کابل بار دیگر ماتمدار شد. هنوز چند صباحی از انفجارهای مرگبار نگذشته است که بنیادگرایان جاهل مذهبی در ماهی که خود شان آن را ماه رحمت نامیده اند، دست به جنایت دیگری زدند. بسیاری از تلفات این انفجار مهیب و بزرگ غیرنظامیان اند.

شهر کابل، با گذشت هر روز به ماتمکده شباهت پیدا می کند. اکثر باشندگان شهر به امراض روانی مبتلا شده اند. روزی نیست که جنایتی درین شهر به وقوع نپیوندد. انفجارهای مرگبار از نوع روز چهارشنبه در کابل، در کنار این که صدها خانواده را به سوگ عزیزان شان می نشاند، علاوتاً هزاران انسان از کودک گرفته تا بزرگسال را به انواع امراض روانی و روحی مبتلا می سازد.

در انفجاری که در سرک وزیراکبرخان به روز چهارشنبه به وقوع پیوست، در حدود ۱۰۰ تن کشته و نزدیک به ٤۰۰ تن دیگر زخمی شدند. این یکی از خونین ترین انفجارها در شهر کابل است که در آن به این همه غیرنظامی تلفات وارد می شود. صدها خانواده ای که جگرگوشه های شان را دراین حادثۀ جنایتبار و در عین حال غمبار از دست داده اند، همه بر حکومت وحشت ملی و حاکمان آن لعن و نفرین می فرستند. اینان خود را در حصارهای کانکریتی و فولادی محصور کرده اند و شهر را به دست گرگان هار سپرده اند. حکومتی که اکثریت حاکمان آن وابسته به کشورهای خارجی باشند، توقعی بیش از این در مورد امنیت آن نمی توان داشت، زیرا موجودیت هزاران

جاسوس در هر گوشه و کنار حکومت وحشت ملی به خودی خود نشان می دهد که هر کشوری که بخواهد می تواند به بسیار آسانی امنیت را مختل سازد و تمام کشور را به زندان باشندگان آن تبدیل نماید.
حکومت وحشت ملی هم جز این که «حادثه را با شدیدترین الفاظ تقبیح» نماید، کاری از دستش ساخته نیست و یا واقعاً نمی خواهد کاری بکند. مردم حتی تبصره می کنند که در انفجارهائی از این نوع، سی.آی.ای و سفارت امریکا دست دارند تا وضعیت افغانستان را خطرناک نشان دهند و تداوم خود را به زعم خودشان مشروعیت ببخشند.



- د داعش پیدا کیدل او په وړاندې یې د طالبانو غبرګون د دې لامل شوی چې روسان هم په دې وروستیو کې د طالبانو له بیلابیلو ډلو سره خپلې مرستې او ورڅخه ملاتړ پیل کړي. داسې ویل کیږي چې له وسلو او مهماتو پرته اوس په کندز کې روسان د طالبانو مشري کوي او د جګړې په مخته وړلو کې ورته مشورې ورکوي او د جګړې نقشې برابروي.

الجزیرې په نوم یو عربي ټلویزیون اوس په شمال کې د ترهګرو ډلو د وضعیت په اړه په نوي راپور کې د طالبانو په لیکو کې د روسانو د شتون له رازه پرده پورته کړې ده. ددې ټلویزیون له لوري په خپاره شوي راپور کې راغلي دي چې د طالبانو په لیکو کې اوس روسي سلاکاران ډیر شوي دي چې په مستقیم ډول دوی ته د جګړې د رهبرۍ قومنده ورکوي. په راپور کې یوې سرچینې ویلي دي چې تر ډیره طالبان د روسانو شتون د سلا مشورې په خاطر بولي خو اصلي خبره داده چې روسان مشوره نه ورکوي بلکه نیغ په نیغه د طالبانو رهبري کوي.
په کندز کې یوې باوري سرچینې هندوکش خبري آژانس ته ویلي چې د روسانو شتون په شمال کې ډیر شوی دی.
دې سرچینې وویل: «روسان په پښتو نه پوهیږي، ترجمانان ورسره وي، تر ټولو په ښه موټر کې ګرځي، په نویو زرهي او مخابراتی وسایلو سمبال دي؛ طالبان یې په افغاني جامو او پکول کې د پټولو کوښښ کوي خو نه شي پټیدای.»
دې سرچینې زیاته کړې: «روسان نیغ په نیغه د جګړې مشري کوي حتی د سیمو په کوردینات او قومنده کې تر طالبانو مخکې اقدام کوي. یو وخت به یې موږ ته ویل چې دا چچنیان دي او موږ هم یو ډول منلي وه خوکله چې په روسانو کې دوه ډوله څیرې خلکو ولیدې نو پوښتنې ډیرې شوې اوس چچن ترهګر او روسان هر سړی پیژني.»
دوی وایي چې په کندز کې طالب ترهګر په روزنیزو مراکزو او پټنځایونو کې روسانو ته خاص ځای لري او روسان هم په ډیرې هوښیارۍ سره هڅه کوي په سرحدي او صفري سیمو کې پاتې شي. دا خبرې په داسې حال کې مطرح شوي دي چې اوس اوس ویل کیږي طالبانو ته له روسیې وسلې رارسیدلي دي او د کره سرچینو په حواله د طالبانو مشران هبت الله آخوند او سراج الدین حقاني هم په پاکستان کې تر رسمي هوکړې وروسته روسیې ته درې ځلې تللي دي.